## د پلټنې عالي ادارې تاریخچه:

د پلټني عالي اداره د پلټني ډیره لوړه مرجع ده چې په ۱۳۰۰ هجري لمریز کال کي د نظام نامې او د افغانستان د دولت بنیادي او اساسي تشکیلاتو په اساس د (دیوان سنجش) تر عنوان لاندې رامنځته شو.

دغه اداره د تاریخ په اوږدو کې په بیلابیلو نومونو یاده شوې ده او دغې اداري په ډېر اوږد وخت کې چې شاوخوا یوه پیړۍ کیږي د خپل ځان د بشپړتیا مزل سرته رسولي دی تر دې چې په ۱۳۹۶ هـ لمریزکال چې هغه وخت کې د افغانستان د اسلامي دولت جمهور رئیس په نوم یادېده له اړخه د پلټني د عالي اداري په نوم ونومول شوه.

## د ادارې لید لوری:

د پلټني عالي اداره دا تصمیم لري چې د پلټني په برخه کی یوه نمونه یي او سمبولیکه اداره واوسي او دعامه منابعو شفاف مدیریت، حساب ورکونه او ځواب ورکونه د پروخت پلټنې، له لارې او د خپلواکه ,معتبر او متوازان راپور ورکونې زمینه برابره کړي.

## د پلټنې د ادارې ماموریت یا دنده:

د پلټني د اداري موخه داده چې دعوائدو له تحقق او د امارتي ادارو له مصارفو او عامه شتمنیو له ساتنې څخه ډاډ ترلاسه کړي او همدارنګه د امارتي ادارو د فعالیتونو اغیزمنتوب او اقتصادي والي او د امارت، مالي او حسابي ادارو او مؤسساتو او همدارنګه د هغو مراجعو چې پیسي یا عامه شتمني په اختیار کې لري او د هغوی څخه ګټه اخلي ددوی ټولو غیر قانونی او ناسمه فعالیتونو پیژندنه وکړي او قانونی مراحلو د طی کولونه یی وروسته مسؤل مقام ته ورو‌پیژني.

## اساسي ارزښتونه:

- خپلواکي.
- دمسؤلیت منل او شفافیت یا رونټیا.
- محرمیت یا رازداري.
- وړتیا او ژمنتیا.
- مسلکي جوړونه.
- مرسته.
- با هدفه اوسیدل.
- اعتبار.
- اعتماد او باور.
- بی طرفي او دهیچا اړخ نه نیول.

## اداري جوړښت:

ددې اداري په رهبري هیئت کي لاندي کسان شامل دي :

د پلټني دعالي اداري عمومی رئیس (......................)

د قانوني اسنادو د رعایت او د مالي چارو د پلټني مرستیال، د اداري او مالي چارو مرستیال، رئیسان، آمرین او نور کارمندان.

په مجموعه کی د پلټني عالي اداره ( ) کارکوونکي لري چي د هغي له جملې څخه ( ) پلټوونکي او( ) تنه اداري کارمندان شامل دي.

## د پلټنې ډولونه:

**د پلټني عالي اداره لاندې پلټني ترسره کوي**

- مالي پلټني.
- د اوصولو، قوانينو او مقراراتو پلټني.
- د چارو او د ژوند د چاپيريال پلټني.
- د معلوماتي ټکنالوجی پلټني.
- ځانګړې او مختلط پلټني.
- د ډاډمنو او قطعي حسابونو پلټنه.

## د پلټنې ساحه:

## د پلټنې عالي اداره لاندېنيو مراجعو مالی او حسابي چارو د پلټنې صلاحيت لري

- د رياست الوزرا دفتر او د هغه اړونده ادارې.
- د مقننه قوې دارا لانشاء.
- د قضايه قوې عمومي امريت.
- په هيواد کي دننه او بهر د مرکزی ادارو واحدونه.
- عمومي خپلواکه رياستونه.
- خپلواکه کميسونونه.
- لويه ځارنوالي.
- ښاروالي.
- تصدي، امارتي شرکتونه ا و هغه شرکتونه چي امارت په هغوی کي برخه يا سهم لري.
- نور هغه مراجع چي پيسې يا عامه شتمني اختيار کې لري او د هغه څخه ګټه اخلي.

## د ادارې نړيواله يا بين المللي اړيکې:

الف: **په نړيوالو سازمانونو کی غړيتوب :**

- د پلټني نړيوال عالي سازمان (INTOSAI).
- د پلټني د عالي مؤسساتو د اقتصادي مرستو سازمان (ACOSAI).
- د پلټني اسيايي عالي سازمان (ASOSAI).

**ب : د مرستو او همکارۍ تفاهم ليکونه :**

- د هندوستان هېواد سره د مرستو تفاهم ليک.
- د ترکيي هېواد سره د مرستو تفاهم ليک.
- د ماليزيا هېواد سره د مرستو تفاهم ليک.
- د تايلنډ هېواد سره د مرستو تفاهم ليک.
- د سويډن هېواد سره د مرستو تفاهم ليک.

## د پلټنې عالي ادارې رول او اهمیت:

**د پلټنې عالي اداره په لاندې ساحو کې رغنده رول لري :**

- د عامه یا ټولګټو شتمنیو ساتنه.
- د فساد سره مبارزه.
- د شفافیت اوحساب ورکونې تامینول.

## د ادارې د انکشاف یا پراخوالي غرض :

1. د ادرې د حقوقي جوړښت او د بشري خپلواکۍ تقویت.
2. سازماني او جوړښتیزه پراختیا.
3. د کارمندانو مسلکي کول او د ظرفیتونو لوړول.
4. د پلټنې د کیفیت او اغیزمنتوب ښه کول.
5. د پلټنې د چارو خپلواکه کول.
6. د ګټورو علاقه مندانو سره د ارتباط قوي کول.